محمد سمیع صادق ۲۰۲۲/۰۵/۰۹

ملایکه؟

(کیسه په سلو ټکو کې)

هغه ډېر ښه مسلمان وو. څلور لمونځونه ئې په جمع کول، بس د سهار دا به تل ځیني قضا کېدی. هر څه ئې وکړه خو له خوبه نه سوای ورته را پاڅېدای.

نن ډېر خوشحاله دئ، اوله ورځ ده چې جومات ته د جماعت لپاره روان دئ.

کرۍ شپه ویښ وو. په موبایل کې ئې د یو حسین نرښځې نڅاوي کتلې. د سپېدو تر چاودېدو پورې ئې خپل ساعت د ښکلي خواجه سرا پر رقص او ادا تېر کړ.

د مسجد په دروازه کې امام په استقبال کې ورته وویل:

«پوهېدم، آخر به کومه ورځ یوه ملایکه تا لمانځه ته را کښېنوي!»

محمد سمیع صادق

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ